اجمل اکبری

۲۰۱۳/۰۲/۲۱

# د مبارکی پیغام

د غرغښت ټولنی په استازیتوب د ۱۳۹۲ لمریز کال د رارسیدو له کبله زموږ د ګران هیواد د ننه او بهر ټولو افغانانو ورونو، خویندو، میندو او پلرونو ته مبارکی وایم.
مودې مودې وشوی چی زموږ په ښکلي او ګلالي هیواد ګران افغانستان کې چا د خوشالی او خوښی ځرک ندی لیدلی زموږ دردیدلي، غمیدلي، کړیدلي، ژړیدلي او په زړونو ټپي شوی میندی د خپلو په وینو کی لیت پیت شهیدانو په سپیځلو مزارونو د نوروز په ورځو کې زړه بوږنوونکی ساندې بولي او د خپلو غمجنو سترګو څخه د تودو اوښکو باران نذرانه کوی زموږ نوروز په غمروز بدل شوی او په کورونو کې له بده مرغه، دریغا! دریغا! د خوښی ډیوی مړی دي او د خپلو شهیدانو او ټپی ټپی ځیګرګوښو په یاد د وطن د زوریدلی او کړیدلی مور کوکارې او زګیروی تر عرشه پوری رسي زموږ د اسمان ځکو غرونو په ښکلو درو او سردرو کې ریدي او غاټول د دښمن د باروتو په لوګیو زمولل شوی او نه ټوکیږي.

**هوکی!!**

شنه پسرلي زمــوږه، ټـوله خــزان خـزان دي
شنــو چمـنوکې ایــرې، پــرتي ډیــران ډیران دي

ګل شــوی نه وی غـوټی، په ځــوانی وزمـولیږي
ریژیـــږي پانـــی پـانـــی، مــړاوی ګلان ګلان دي

خـــاورې سپـیـرې یـی، د ژوندون هیـلـی شولـی
د تنـکـــی عمــر شهید، ټـوله ځــوانان ځوانان دي

هــدیـری ډکـې شـولـی، پــه غـیرتـــي ځلمیانـو
زمـوږ غـمجنـې میندی، ځیري ګریوان ګـریوان دي

په موږ خـــوګ نه رحمیږی، ټـولـه مـرګو ته پیدا
د افـغانـانـو په کور او کلـی، ورګډ لیوان لیـوان دي

تـیری بـه دا شیبی شـــی، ای بـــرمیـــال مـــلـتـه
زموږ د میـړانی کیـــسې، هر چاته عیان دی

زما د وطن غیرتمنې، قدرمنې، درنې او مهربانی موری!
له ژړاندو غمجنو سترګو دی واری شم د وچو شونډو او وچو بارخوګانو دی ځار ځار شم.
زه دی په ټوله مانا او ژور احساس ستا ناپایه دردونه، کړاوونه او سوی اهونه درک کوم هوکی پوهیږم سترګو ته دی د پنجوایی د شپاړسو تنکیو ماشومانو او په وینو کی رغړیدلو میندو ځنګ په ځنګ قبرونه او شناختی ولاړی دی.
پوهیږم چی د غیرتی او لرغونی لغمان د بی وزله او خواریکښو میرمنو د ډله ییز شهادت ناورین دی سترګو ته ولاړ دی. پوهیږم چی د تاریخی تګاو د تنکیو شپونکیو د شهادت محشر دی سترګو ته دریږي. پوهیږم چی په ښکلی کندوز کی د څه د پاسه یوسلو دیرشو تنو د بوډاګانو، ځوانانو او نازولو ماشومانو د شهادت ستره غمیزه او بی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ساری تراژیدی دی لا زوروي او د هغه په زړه بوږنوونکی ناتار دی له زړه وینی څاڅي او همدا راز د هیواد په کلو او بانډو کی د خیرن مخو او تور زړو استکبار او انتحار وحشی او دوزخی ځناورو په سولګونو او زرګونو خونړی کړنی دی ارام ته نه پرېږدی.

د وطن کرېدلي موري!
ستا تورزنه او ننګیالی اولاده له پامیره تر اټکه له چتراله تر بولانه خوره وره پرته ده دا هغه تاریخی او میړنی پرګنی دی چی د زمانی په اوږده واټن کی له سترو ناتارونو، بلوسو او یرغلونو سرلوړی، برمیال او توریال راوتی دی.
د نازو انا او زرغونی انا په سپیڅلو لمنو کی د نړیوالو او نومیالیو اتلانو سوبی او برياوی زموږ د دغي غیرتي خاوري په ګوټ ګوټ کی انګازی کوی دا د شنو زمرو او عقابانو زاله ده د ختیک بابا په وینا!
د عالم ډیری خبری لور په لور توری لښکری زړه می نه خوځی له ځایه غر خو هسی وی کنه

مه ژاړه، مه ژاړه اوښکی دی پاکی کړه او په دغه سپیڅلي بشري او افغاني احساس دی د عرش لوی څواکمن او نیاومن سلطان ته لاسونه لپه کړه چی زموږ خوری وری پرګنی د جهالت او نا پوهی د توری بلا له منګولو وژغوره.

دعلم او پوهی په ګانه یی سمبال کړه. د ملي یووالي او کلک پیوستون همت او برکت ورکړه.
د لویو سوبو سترو خوښیو او په ګران هیواد کی د لور په لور سوکالیو په هیله. امین یا رب العلمین

بسم الله اکبري په هالنډ کی د غرغښت تولنی مشر

پای





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ